# سقراط

## سقراط څوک وو؟



*Illustrasjon: KINDPNG*

سقراط یو پوه سړی و چې شاوخوا 2400 کاله مخکې په اتن کې ژوند کاو. سقراط یو فیلسوف وو. هغه د علم او حکمت په لټه کې و. هغه غوښتل چې خلک خپله غور او فکر وکړي.

## فیلسوف چا ته ویل کیږي؟

- یوڅوک چې نوي فکرونه کوي او ډېر فکر کوي هغه ته فیلسوف ویل کیږي.
- او هم حکیم وی.
- سقراط یو فیلسوف و چې ډیرې پوښتنې یې کولې.

## سقراط څنګه ژوند کاوه؟

- سقراط کله چې ځوان وو غوښتل یې چې یو سیاستوال شي.
- سقراط دومره پروا نه کاوله چې ظاهری بڼه یې څنګه ښکاري.
- جامې یې چې اغوستې څیرې څیرې وې او چپلکې یې زړې وې.

- د سقراط لپاره، په ژوند کې ترټولو مهم شی د ښه ژوند درلودل وو.
- ټوله ورځ به د اتن په چوک کې ګرځېده او د نورو خلکو سره به یې خبرې کولې.
- سقراط ډېرې پوښتنې درلودی.
- سقراط له خلکو سره بحث او پوښتنې کولې.
- هغه د پوهې په لټه کې وو او غوښتل یې لا هم نوره پوهه تر لاسه کړی. نو له همدې امله د هر څه په اړه یی چی فکر کاوه د اتن له پوهوخلکو څخه یی پوښتل.
- سقراط غوښتل چې خلک باید خپله هم فکر وکړي او یوازې هغه څه ونه منې چې نور یې سم بولي.
- ډیری وختونه خلک د هغه پوښتنو ته په څواب ویلو کې پاتې راتلل.
- دا ددې لامل وګرځېده چې دوی ځان ناپوه احساس کړی. نو له همدې امله ځینې د دوی نه له سقراط نه په غوسه او ناراضی شول.

## سقراط څه ډول پوښتنې کول؟

- نړۍ څنګه پیدا شوه؟
- د ژوند معنی څه ده؟
- زړورتوب څه ته وايي؟
- ښه ملګری یعنې څوک؟
- دروغ وایم ،که چیری زه حقیقت بیان نکړم ؟
- څنګه پوهیږم چې څه سم او څه غلط دي؟

## سقراط ته سزا ورکول کیږي

- سقراط د ټولو سوالونو د پوښتنو له امله په مرګ محکوم شو.
- هغه کسانو چې په اتن کې یې پریکړه کوله هم په دی باور وو چې سقراط د دوی دخدای په شتون باور نه درلود.
- سقراط وویل دا خبره رښتیا نه ده، خو بیا هم د 399 ق م کال (د مسیح څخه مخکې)په پسرلي کې محاکمه شو.

- په هغه وخت کې، په مرګ محکومه بندیانو اجازه درلوده وټاکي چې څنګه مرګ غواړي. سقراط غوره کړه چې دوروستی ځل لپاره ښه خواړه وخوری،مخکی له دی چی یوجام زهر وڅښي.

## دخپل ځان سره فکر کول

- سقراط په دې باور وو چې خپل ځان پېژندنه مهمه ده.
- که تاسو خپله خپل ځان وپېژنئ، تاسو کولی شئ په اسانۍ سره بدلون ومومې او یو ښه انسان ووسی.
- خپلې خوښې او ناخوښې په پام کې ونیسئ.
- څه شی تاسو خوشحاله یا غوسه کوي؟
- ولې خوشحاله یا غوسه کیږئ؟
- د دې په اړه فکر وکړه. فکرونه یا احساسات تاسو ته څه وایي؟
- کله چې تاسو د خپل ځان په اړه یو څه زده کړل، کولی شئ په اسانۍ سره نور درک کړئ.